IOM
UN MIGRATION

# د بې اسناده افغان کډوالو راستنېدنه

## اونيز راپور
## ۰۲ - ۰۸ جولای ۲۰۲۱



د جولای میاشتې په پیل کې، د ای او ام اداره د هرات ولایت عبوری مرکز او روغتیایی مرکزونو ته د افغانستان لپاره د سویس پرمختیایی همکارۍ دفتر (SDC) لوړ پوړو کارمندانو راتک ته ښه راغلاست وایی. @ ای او ام ، جولای ۲۰۲۱.

**اړین تکي-۲۰۲۱**

د روان کال ۲۰۲۱ جنورۍ میاشتې د شروع څخه تر دا مهاله له ایران او پاکستان څخه ټولیزه راستنېدنه- **۶۲۷،۹۷۹** وګړي.

په ۲۰۲۱ میلادی کال کې له ایران څخه **۶۲۱،۱۳۳** کډوال راستانه شوی دی چې د تیرې اوونۍ په جریان کې له ایران څخه **۱۶،۹۵۷** بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه ۵٪ او یا ۹۱۶ انفرادی وګړی چې (۶۱۳ نارینه او ۳۰۳ ښځینه) کېږی مرسته شوی ده.

په ۲۰۲۱ کې له پاکستان څخه **۶،۸۴۶** کډوال راستانه شوی دی چې د تیرې اوونۍ په جریان کې له پاکستان څخه **۲۲** بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه ۱۰۰٪ او یا ۲۲ انفرادی وګړی چې (۱۳ نارینه او ۹ ښځینه) کېږی مرسته شوی ده.

**تمویل اړتیاوې**: په ۲۰۲۱ میلادی کال کې د ۲۹،۷ ملیون ډالرو د تمویل غوښتنې پروړاندې دکډوالۍ نړیوال سازمان یوازې ٪۵ ددې مرستو څخه ترلاسه کړی ده.

**د بې اسناده راستنیدونکو کډوالو سره د کډوالۍ نړیوال سازمان په وخت مرستې**

**د کډوالو روغتیا:** ۲۰۲۱ کال د شروع څخه تر اوسه پورې IOM د کډوالو روغتیا پروګرام په نیمروز، هرات، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې ۱۹۷،۴۵۴کورنیو ته د لومړنیو لازمې روغتیا پاملرنې خدماتو عمومې ناروغیو ، مور ، ماشوم او نوي زیږون روغتیایی پاملرنې ، د زیږون روغتیا ، کورنۍ د پلان کولو د کویت ۱۹ خدمات وړاندی کړی دی. او دا برنامه د بیړنیو کمکونو وجهي صندوق (CERF)، د امریکا د متحده ایالاتو د نفوس، کډوالۍ او مهاجرت (BPRM) او د افغانستان لپاره بشردوستانه وجهي صندوق (AHF) لخوا یې مالی ملاتړ کیږي .د تیرې اوونۍ په جریان کې په مجموعې توګه ۳،۸۶۴ مریضانو د IOM اوو ګرځنده روغتیایی ټیمونو لخوا خدمات وړاندی کړی دي چې ۲،۳۹۳ بستر ناروغانو ته مشورې، ۳،۸۶۳ ښځو او نارینو ته د ټولنې په کچه روغتیا تعلیم زده کړې ناستې او ۱۹۵ ناروغانو ته رواني مشورتي ناستې ترسره شوې دی. د کډوالو روغتیا پروګرام د نړیوال وجهي صندوق او د څو هیوادونو د نری رنځ او د UNDP سره په ملګرتیا فنډ لاندې د نری رنځ په ټولیز ډول ۹،۵۶۷ بې اسناده افغان کډوال هرات، نیمروز، کندهار او ننګرهار ترانزیټ مرکزونو کې دتشخیص لپاره معاینه شوی چې ددې جملې څخه ۲۵۳ ناروغان چې په نری رنځ اخته (ګومان کیږي) قضیې مشخص شوی دی او ۳ قضیې مثبت ثبت شوی دی.

خوندیتوب: د IOM د خوندیتوب برنامې په ۲۰۲۱ جریان کی ۱،۸۹۴ غیر راجستر کورنیو چې( ۲،۵۰۶ ښځېنه، ۲،۳۶۲ نارینه، ۳،۹۰۳ انجونې او ۴،۴۶۱ هلکان) سره چې ځانګړې قضیې هم په کې شاملې دی مرستې تر سره کړی چې په وخت سره معلوماتو چمتو کول، خدماتو ته په وقار او خوندي ډول لاسرسي اسانولو، او د پیسو په شمول د مرستې چمتو کول ترڅو ددې لارې د خوندیتوب پېژندل شویو خطراتو کمولو لپاره او منفي تاکتیک میکانیزمونو څخه مخنیوی کول کله چې د راجع کولو خلا موجوده وه. د سکرینینګ کارمندانو سره چې د هرات او نیمروز په سرحدي نقطو او همدارنګه د بیرته راستنیدنې په ۱۱ ولایتونو کې کار کوونکې کار کوي. د خوندیتوب په برخه کې ۶۶ نیویو قضیو (۸۹ ښځینه، ۷۳ نارینه، ۱۴۸ انجونې او ۱۸۴ هلکان) ارزونه په نیمروز، غور، بلخ، بدخشان، هرات، تخار، ننګرهار، کابل، فاریاب او سرپل ولایتونو کې بشپړه شوی ده، چې په دې ارزونه کې ۲۶ ماشومان په خطر کی، ۲۰ شدیدی طبی قضیې، ۲۰ ښځې په خطر کی، ۴ سپین ږیری په خطر کی، ۷ تنها مور او پلار او ۵ د معلولیت قضی قضیو سره مرستی ترسره شوی دی. او ۱۳۳ د ځانګړو ضروتونو لرونکو او کورنۍ په میلک او اسلام قلعه کی د کډوالو چار و ریاست سره په هغمږی سره سکرین کړی دی. ۲۵ غیر راجستر راستانه شوی انفرادی او کورنۍ چې (۱۵ ښځینه، ۱۶ نارینه، ۳۵ انجونې او ۴۱ هلکان) د رارسیدو څخه وروسته مرستې ترلاسه کړې چی د بیلګې په توګه (ګرځنده تلیفونونه ، د کورنۍ تعقیب، د لاری کرایه) همدارنګه ۶۶ قضیو لپاره د قضیو مدیریت ارزونه ترسره شوې ده.


**مونږ سره په اړیکه کی شی:**

د کډوالی نړیوال سازمان کابل: iomafgcrossborder@iom.int
http://afghanistan.iom.int
facebook.com/iomafghanistan
twitter.com/iomafghanistan

**د ایران څخه راستنېدنه:** د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۱۶،۹۵۷ بې اسناده افغان کډوال په خپله خوښه د نیمروز (میلک) او هرات (اسلام قلعه) له لارې د ۲۰۲۱ میلادی کال د ۰۲ جولای څخه د جولای تر ۰۸ نېټې پورې بیرته هېواد ته راستانه شوي او یا شړل شوي دي، چې ۷،۱۰۳ افراد په خپله خوښه راستانه شوی او۹،۸۵۴ شړل شوی دي. د ۲۰۲۱ لمریز کال دجنوری د لومړۍ نېټې څخه تر اوسه پورې په عمومي توګه (۶۲۱،۱۳۳) بې اسناده افغان کډوال د ایران څخه راستانه شوی دي چې په ۲۰۲۰ لمریز کال کې د ورته مودې په پرتله ۶۷ سلنه زیاتوالې راغلې دي.

**د پاکستان څخه راستنېدنه:** د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۶،۸۴۶ بې اسناده افغانان په خپله خوښه د پاکستان څخه د ۲۰۲۱ جنورۍ د ۱ نېټې څخه بیرته خپل هیودا ته راستانه شوي دي. د تیرې په اوونۍ کې په مجموعي توګه ۲۲ بې اسناده افغان ګډوال چې (۲۰ راستانه شویو کورنۍ غړی) د تورخم او (۲ راستانه شویو کورنۍ غړی) د سپین بولدک پولې له لارې له پاکستان څخه بیرته خپل هیواد ته راستانه شوي دی. د وروستي جنګونو له امله سپین بولدک پوله کې د مرستو لړۍ لنډمهاله توکه ځنډیدلی ده.

### په ۲۰۲۱ کال کی د بې اسناده راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نېټه | ایران | | | | | پاکستان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | د ایران مجموعه | تورخم | | قندهار | | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۰۱ جنوری -۳۱ مې | 164,485 | 121,893 | 54,654 | 149,288 | 490,320 | 678 | 253 | 4,269 | 236 | 5,436 | 495,756 |
| ۰۱ -۲۴ جون | 43,106 | 21,570 | 8,778 | 20,475 | 93,929 | 281 | 21 | 771 | 14 | 1,087 | 95,016 |
| ۲۵ جون - ۰۱ جولای | 5,059 | 7,003 | 2,505 | 5,360 | 19,927 | 88 | 2 | 211 | 0 | 301 | 20,228 |
| ۰۲ -۰۸ جولای | 4,735 | 4,626 | 2,368 | 5,228 | 16,957 | 20 | 0 | 2 | 0 | 22 | 16,979 |
| **مجموعه** | **217,385** | **155,092** | **68,305** | **180,351** | **621,133** | **1,067** | **276** | **5,253** | **250** | **6,846** | **627,979** |

### په ۲۰۲۱ کال کی د مرسته شویو راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نېټه | ایران | | | | | پاکستان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | د ایران مجموعه | تورخم | | قندهار | | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۰۱ جنوری -۳۱ مې | 1,294 | 8,639 | 784 | 10,909 | 21,626 | 675 | 221 | 4,125 | 209 | 5,230 | 26,856 |
| ۰۱ -۲۴ جون | 224 | 1,429 | 58 | 1,215 | 2,926 | 281 | 21 | 771 | 1 | 1,074 | 4,000 |
| ۲۵ جون - ۰۱ جولای | 67 | 417 | 36 | 315 | 835 | 88 | 2 | 211 | 0 | 301 | 1,136 |
| ۰۲ -۰۸ جولای | 26 | 524 | 22 | 344 | 916 | 20 | 0 | 2 | 0 | 22 | 938 |
| **مجموعه** | **1,611** | **11,009** | **900** | **12,783** | **26,303** | **1,064** | **244** | **5,109** | **210** | **6,627** | **32,930** |




**په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له ټولو لاندینو بسپنه ورکونکوو ، تمویلونکو نه مننه او قدرداني څرګندوی. د نومورو تمویلونکو ، مالي ملاتړو په مرسته د کډوالۍ نړیوال سازمان وتوانید چې په ۲۰۲۱ میلاد کال کې ۳۲،۹۳۰ بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته ترسره کړه.**

United Nations CERF Central Emergency Response Fund

The Global Fund To Fight AIDS, Tuberculosis and Malaria

AHF Afghanistan Humanitarian Fund

in coordination with

**جاپان، د امریکا متحده ایالات، سویس، ایکو (د اروپایي اتحادېه بشري مرستو څانګه) د بیړنیو کمکونو وجهي صندوق (CERF)، دنړی رنځ، ایډز او ملاریا نړیوال وجهي صندوق او د افغانستان لپاره بشردوستانه وجهي صندوق (AHF).**